# امیرِ اَھلِسُنَّت نه د نوم ایښودلو په باره کښې سوال جواب

پښتو




پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰھُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم مدينہ بقيع ومغفرت

د رسالے نوم: امیرِ اهلِسنت نه د نوم کيښودلو په باره کښې سوال جواب

اول ځل: ..........................................

تعداد: .....................

## مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# امیرِ اهلِسنت نه د نوم کیښودلو په باره کښې سوال جواب

شیخِ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دامت برکاتهم العالیه دا رِساله "امیرِ اہلسنت سے نام رکھنے کے بارے میں سوال جواب" په اردو ژبه کښې لیکلي ده.

مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمے، زیاتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړیٔ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلِسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

### برائے رابطہ:


عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

دا مضمون د ”غیبت کی تباہ کاریاں“ صفحه 281 تا 300 نه اخستے شوے دے

# امیرِ اہلِسنت نه د نوم کیښودلو په باره کښې سوال جواب

## د درود شریف فضیلت

د الله پاک د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان: چا چې دا اووئیل: ”اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ یَوۡمَ الۡقِیَامَةِ“[(1)] د هغه د پاره زما شفاعت واجب شو.
(معجم کبیر، رویفع بن ثابت الانصاری، 5/25، حدیث: 4480)

سوال: هر کس د خپل اولاد ښه او منفرد نوم کیښودل غواړي، د دې د پاره څه طریقه اختیار کړے شي؟

جواب: پخوا به خلق د جمات امام صاحبانو او د علمائے کرامو بارګاه کښې حاضریدل او د خپل اولاد د پاره به ئې د نوم تپوس کولو، او اوس خلقو انټر نیټ خپل ” پیر، راه نما او بابا “ جوړ کړے دے، څکه نن صبا خلق د ”نیټ بابا“ نه تپوس کوي. د دعوت اسلامي نه مخکښې خبره ده، زما دومره شهرت نه وو، خو چې کِیره مې د کوم وخت نه راغلې ده، پریښودې مې ده، هغه وخت کښې به عام طور خلقو کِیرې نه پریښودلې، بعضې مشرانو به پریښودې وې. بهرحال! د کهارادر یو جمات چې د هغې نوم ”بِسمِ الله“ وو، هغې سره خواه کښې ما سره یو ماشوم ملاو شو او هغه اووئیل: ”مولانا صاحب! زمونږ کور کښې ماشوم پیدا شوے دے، د هغه د پاره راته نوم اوښائے.“ زه د هغه جمات امام نه ووم، خو ماشوم زما حُلیه د مولانا په شان اولیدله نو زما نه ئې د ماشوم د نوم د پاره تپوس اوکړو. نو دا د پخوا انداز وو، نن صبا انټر نیټ په موبائیل فون کښې موجود دے، په هغې کښې د اکثرو نومونو هُم دا معنٰی لیکلې وي: جَنّتي ګُل، یا جَنّتي محل.“چې انټر نیټ راه نما جوړوئ نو دِغره به

---

[1] ...اے الله حضرت محمد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندې رحمت نازل کړې او هغوئې ته د قیامت په ورځ خپله بارګاه کښې مُقَرَّب مقام ورکړې .

خورئ او ګزاريږئ به، عاشقان رسول عُلَماء راه نما جوړ کړئ! صرف دې کښې مو فائده ده.“ د دعوت اسلامي د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه کتاب ”نام رکھنے کے اِحکام“ کښې د ماشومانو هلکانو او جينکو ډير نومونه ورکړے شوي دي، په هغې کښې ئې اوګورئ او نوم ترينه خوښ کړئ او کيږدئ، يا که څوک غواړي نو د هغې نه دِ څه نومونه منتخب کړي او بيا دِ د علمائے کرامو سره مشوره اوکړي چې دا څو نومونه مونږ راوښکلي دي، په دې کښې راله تاسو يو نوم خوښ کړئ. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:96)

**سوال:** که څوک اووائي: ”غلام رسول“ نوم کېښودل جائز نه دي ځکه چې مونږ د رسول الله صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم امتيان يو، آيا داسې وئيل جائز دي؟

**جواب:** ”غلام رسول“ نوم کېښودل جائز دي د مالِک او غلام دور ډير پخوا تير شوے دے پخوا دور کښې به غلامان خرڅيدل او د حضور صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دور کښې به هم خرڅيدل، د نبي کريم صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وِصالِ ظاهري نه پس هُم خرڅيدل، او په قرآنِ پاک کښې هُم د غلامانو ذکر دے، د دې نه علاوه هم ډيرو ځايونو کښې د غلام او وينزو ذکر راغلے دے. بهرحال دا ښنګه ممکنه ده چې د عام کس غلام خو دِ وي خو د مُصطَفیٰ کريم صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلام دِ نه شي کيدے.

## د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غلام شان (حکايت)

حضرت سَيِّدُنا سَفِينه رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ د رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابي دے، يو ځل د قافلے نه جُدا شو او خپل ملګري ئې تلاش کول چې ناڅاپه ئې مخې ته ازمرے راغے، هغوئي د ازمري نه هيڅ ويره نه لرله ازمري چې د نبي صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا غلام اوليدو نو ازمرے اويَريدو! حضرت سفينه رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ ازمرے مخاطب کړو او ورته ئې اُووئيل: ”يَااَبَاالْحَارِث اَنَامَوْلٰی رَسُوْلِ اللّٰه يعني اے اَبُوالْحارِث! تا ته پته ده چې زه څوک يم؟ زه د رسول الله غلام يم.“ اَبُوالْحارِث د ازمري کُنيت دے د هغوئي دا خبره ئې چې واوريده نو ازمري لکئ اوخوزوله او واپس روان شو، دا دې خبرې ته اشاره وه چې ما پسې شاته شاته راځئ، هغوئي په ازمري پسې شاته شاته روان شو نو ازمري هغوئي

خپلو ملګرو سره يو ځائے کړو.

(مصنف عبد الرزاق، 10/233، حدیث: 20711)(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:97)

اُن کے جو غُلام ہو گئے ‌ ‌ ‌ خَلق کے اِمام ہو گئے

**سوال:** د کنيت څه مطلب دے؟

**جواب:** د اصل نوم نه علاوه هغه نوم چې د هغې نه مخکښې ابو، ابن، اُم يا بِنت وغيره موجود وي، هغې ته ''کنيّت'' وائي. (التعریفات للجرجانی، ص136) لکه اِبنِ هشام، اُمِّ هاني او بنتِ هوا. کُنيت کله د پلار په نسبت هُم کيښودلے کيږي کله د ځوئ يا لور په نسبت هُم کيښودلے کيږي.(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:97)

**سوال:** ''کاشان'' او ''بِسۡمِ الله'' نوم کيښودل څنګه دي؟

**جواب:** ''کاشان'' نوم کيښودل صحيح دي دغه شان د ماشومانو جينکو نوم ''کاشانه'' کيښودلے کيږي په دې کښې هم څه حرج نشته، البته په نوم کيښودلو کښې دا خبره پيشِ نظر ساتل پکار ده چې د هلکانو نوم د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام، صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُمۡ او بزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په نومونو باندې کيښودل پکار دي چې د هغوئي برکتونه ئې نصيب شي.

پاتې شوه خبره د ''بِسۡمِ الله'' نوم کيښودلو چې بعضې خلق د ماشومانو نومونه ''بِسۡمِ الله'' کړېدي، د دې معنیٰ ده: ''د الله پاک په نوم شروع'' په ظاهره دې نوم کيښودلو کښې هُم څه حرج نه معلوميږي. د جماتونو نومونه خو هُم ''بِسۡمِ الله'' کيښودلے کيږي لکه د کراچۍ په علاقه کهارادر کښې ''بِسۡمِ الله'' جُمات مشهور دے. د نومونو متعلق قاعده دا ده چې که د يو نوم معنیٰ مخصوص وي نو بيا هغه کيښودل منع وي لکه ''سُبحان'' د دې معنیٰ ده: ''د هر عيب نه پاک ذات'' نو ولے چې دا وصف د الله پاک د پاره خاص دے لِهٰذا د بنده نوم ''سُبحان'' کيښودل منع دي البته ''عبدالسُّبحان'' نوم کيښودلے شي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،1/159)

**سوال:** آيا د ماشومې نوم ''شُکريه'' کيښودلے شو؟

**جواب:** ”شُکریه“ نوم کیښودلو کښې څه حرج خو نشته خو د دې نوم څه فضیلت هم نشته بلکه کیدے شي چې د دې نوم کیښودلو په وجه ورپورې خلق ټوقې اوکړي او کله چې دا ماشومه لویه شي نو کیدے شي چې د دې نوم په وجه هغه د پریشانئ سره مخامخ شي. د داسې نومونو کیښودلو په ځائے د ماشامانو نومونه د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام او د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ و بزرګانِ دین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په نومونو او د جینکو نومونه د صحابیاتو او ولیاتو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په نومونو باندې کیښودل پکار دي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،1/147)

**سوال:** خلق نومونه ورانوي د دې څه وجه ده؟ د دې نه ځان څنګه بچ کړے شي؟

**جواب:** نوم دومره مشکل کیښودلے شي چې د خلقو په خُله نه راځي نو دغه شان خلق نوم وران کړي او د څه نه څه جوړ کړي. لهٰذا نوم ورانیدلو نه د بچ کولو د پاره آسان نوم کیښودل پکار دي چې هغه په آسانئ سره د خلقو په خُله راځي که د برکت د پاره مو یو نوم کیښودے وي او هغه مشکل وي نو هغې سره د عام بول چال یو آسان نوم هُم کیږدئ مثلاً عبدُ الرَّزّاق ډیر ښکلے نوم دے، که د برکت د پاره هُم دا نوم کیښودلو نو د لیکلو او لوستلو د پاره هُم دا نوم استعمالوئ خو دې سره یو آسان نوم هم کیږدئ چې هغه د عام کس په خُله په آسانئ سره راځي. د نوم کیښودلو متعلق نور معلومات حاصلولو د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنه د 179 صفحو باندې مشتمل کتاب ”نام رکھنے کے اَحکام“ مطالعه کړئ. دا ډیر ښکلے کتاب دے، په دې کښې په سوُونو نومونو سره سره د نوم کیښودلو مسئلے هُم بیان شوي دي. دا کتاب د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنه نه هدیةً حاصل کړئ یا ئې د دعوت اسلامي د ویب سائټ (www.dawateIslami.net) نه ډاؤن لوډ کړئ او استفاده ترینه حاصله کړئ. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،2/76)

**سوال:** آیا د ماشومې نوم صحابیه کیښودل جائز دې؟

**جواب:** نن صبا خلق د مُنفَرِدو [ځانګړو] نومونو کیښودلو ډیره جذبه لري. تر دې پورې که د یو څوئ نوم ئې ادریس وي او د بل نوم ورته څوک اووائي چې ابلیس

کیږده نو کیدے شي چې بے تعلیمه خلق دا نوم هُم کیږدي. د مُنفَرِد [ځانګړي] نوم په شوق کښې به هغه ته دا هُم پته نه وي چې ابلیس څه ته وائي؟ حالانکه ابلیس شیطان ته وائي او دا نوم به یو پوهه کس هُم نه ګړدي. دغه شان نور هم خلق ډیر عجیبه عجیبه نومونه ګړدي. بهرحال د صحابیه نوم کیښودلو په ځائے د کومې صحابیه په نوم باندې نوم کیږدئ مثلاً عائشه د صحابیه نوم دے، فاطمه د صحابیه نوم دے او هغې ته دا نسبت هم حاصل دے چې د حضور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شهزادګۍ ده. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،2/178)

سوال: آیا په انسان باندې د نومونو اثرات مُرتّب کیږي؟

جواب: آؤ جي! په انسان باندې د نومونو اثرات مُرتب کیږي.

(فیض القدیر،3/522،تحت حدیث: 3745،ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،2/222)

سوال: دا حقیقت دے چې د نومونو اثرات مرتب کیږي، د ښو نومونو برکتونه ملاویږي او د بدو نومونو خرابیانې هُم ظاهریږي خو د نومونو د دروندوالي او سپک والي څه حقیقت دے؟

جواب: په خلقو کښې د نومونو سپکوالي او دروندوالي تأثُّر شته دے تر دې پورې چې زما نه چا په خصوصي مدني مذاکره کښې په دې باره کښې دا تپوس هم کړے وو چې د هغوئي د یو خپلوان نوم د کربلا والؤ په نوم باندې وو نو هغوئي ته کوم باباجي اووئیل چې د کربلا والا خو ډیرې لوئے هستئ دي او ته دومره قابل نه ئې چې د هغوئي په نوم باندې خپل نوم کیږدې لهٰذا ته دا نوم بدل کړه ځکه چې دا نوم ډیر دروند دے. ما هغه سوال کوونکے داسې پوهه کړو چې: که د کربلا والؤ د نومونو برکت نه ملاویږي نو بیا به د چا د نومونو برکت ملاویږي؟ نوم دروند دے ځکه دِ نوم بدل کړے شي، [یعنې دا چې د چا نُوم دے په هغه سختې ډیرې تیرې شوې دي] نو د نوم بدلولو دا وجه زما عقل نه مني. که د بَرَکت حاصلولو په نیت د خپلو بچو نومونه د صحابه کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُمْ او اولیائے عظامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په نومونو باندې

کېښودلے شي نو اِنْ شَآءَاللّٰه د دې برکتونه به حاصليږي. ياد ساتئ! بد نوم بده ميوه راوړي بدو نومونه کېښودلو سره نقصان کيږي او د دې په وجه د ماشومانو اخلاق هُم بد کيدے شي خو نن صبا خلق د مُنفَرِد [ځانګړي] نوم کېښودلو په حرص کښې د خپلو بچو عجيبه عجيبه نومونه کړدي.(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،2/223)

سوال: تاسو د خپلې رسالے "ضيائے درود و سلام" نوم "ضيائے درود و سلام" ولے کېښودے دے؟

جواب: د ضيا معنٰي "رنړا" ده نو د "ضيائے درود و سلام" معنٰى شوه "د دُرُود و سلام رنړا". ما د سيّدي قطبِ مدينه مولانا ضياءالدين احمد مَدَني په نسبت د دې رسالے نوم "ضيائے درود و سلام" کېښودو چې د هغوئي د نوم يوه حصه په دې رساله کښې راشي. دغه شان "ضيائے درود و سلام" نوم کېښودلو کښې دوه فائدے حاصلې شوې، يوه دا چې د الله پاک د نيک بنده او وَلِيُّ الله نسبت حاصل شو او دوئيمه دا چې د دې معنٰى "د درود و سلام رنړا" هم بالکل ټيک ده. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،2/499)

سوال: د يو کس په کور کښې هلک پيدا شو او هغه يو قاري صاحب ته اووئيل چې داسې نوم راته اوښايه چې په دې محله يا ښار کښې هيڅ چا هُم نه وي ايښودے. هغه ورته په جواب کښې اووئيل: فرعون يا نمرود نوم ورله کيږده! داسې وئيل څنګه دي؟

جواب: هغه به دا هسې احساس ورکولو د پاره يا په ټوقه کښې وئيلي وي چې داسې خو صرف د فرعون يا نمرود نوم کيدے شي چې چا نه وي اِيښے. داسې جواب ورکولو کښې کيدے شي چې د مخاطب کس زړۀ خفه شي، دې صورت کښې هغه [قاري صاحب] له معافي غوښتل پکار دي. داسې جواب نه دې ورکول پکار، ځکه چې که په سنجيده انداز کښې داسې جواب ورکړے شي نو کيدے شي چې لا ړ شي او دا نوم ورله کيږدي. بهرحال! د مُنفَرِد [ځانګړي] نوم کېښودلو په ځائے د انبيائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلَام، صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم، يا د نورو بزرګانو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په نومونو نوم کېښودل پکار دي، دغه شان د خوږ آقائے کريم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نومونو

کښې، لکه محمد، احمد، یا نورو صفاتي نومونو کښې یو نوم کیښودل پکار دي، ځکه چې دا نومونه د برکت والا دي که مُنفَرِد [ځانګړے] نوم کیښودل غواړئ نو د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام او صحابه کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم په نومونو کښې هُم ډیر داسې نومونه شته چې مشهور نه دي، لکه ذُوالْکِفْل او یُوشَعْ" (تفسیر روح البیان، پ23، ص، تحت الآیة: 48، 47/8. تفسیر خازن، پ6، المائدة، تحت الآیة:26، 483/1) دا د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام نومونه دي، خو مشهور نه دي. داسې نومونه د کتابونو نه راویستلے او کیښودلے شئ. د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه کتاب "نام رکھنے کے احکام" کښې هم په سَوونو نومونه موجود دي، په هغې کښې دِ تلاش کړے شي او کیښودلے شي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، قسط:60)

سوال: اکثر خلق د خپلو بچو نومونه عبدالجبّار او عبدالرَّحمان کیږدي او بیا هغوئي ته اکثر رحمان او جبّار وائي، نو په داسې نومونو یادول څنګه دي؟

جواب: د چا نوم چې د عبد په اضافت سره کیښودلے شي هغه بیا په عبد سره وئیل پکار دي د الله پاک نومونه داسې دي چې هغه بغیر د عبد نه نۀ اینبودلے شي او نه رابللے شي. د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه کتاب "نام رکھنے کے احکام" صفحه نمبر 15 کښې دي: عبدالله او عبدالرَّحمٰن ډیر ښه نومونه دي خو اکثر په دې زمانه کښې دا لیدلے کیږي چې د عبدالرَّحمٰن په ځائے خلق هغه کس ته رحمان وائي او غیر خدا ته رحمان وئیل حرام دي. دغه شان عبد الخالق ته خالق [2] او عبد المعبود ته معبود وائي داسې نومونو کښې داسې ناجائزه ترمیم هیڅ کله کول نه دي پکار. دغسې ډیر په کثرت سره په نومونو کښې د تصغیر رواج دے یعني نوم داسې ورانَوِي چې هغه په حقارت مشتمل وي او داسې نومونو کښې هیڅ کله تصغیر کول نه دي پکار. لِهٰذا کوم ځائے کښې چې دا ګمان وي چې په نومونو کښې به تصغیر کیږي هلته دِ داسې

---

[2] ... زمونږ په زمانه کښې دا بدي ډیره عامه ده چې عبدالرحمان ته رحمان، عبدالخالق ته خالق او عبدالقدیر ته قدیر وغیره وائي دا حرام دي، د دې نه بچ کیدل لازم دي. (صراط الجنان، پ9، الاعراف، تحت الآیة: 180، 381/3)

نومونه نه ګړي، نور نومونه دِ کیږدي.(بهارِ شریعت،3/356،حصه:15۔نام رکھنے کے احکام،ص 5116) د تصغیر نه مراد کمول او وړوکے کول دي لکه رویۍ ته چې رویکۍ اُووئیلے شي.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،قسط:61)

سوال: "فاتحه ایمان" نوم کیښودل څنګه دي؟

جواب: د فاتحه لفظ کیدے شي چې د سُوْرَةُالْفَاتِحَه نه اخستے شوے وي او دې سره به ئې لفظِ "ایمان" یو ځائے کړے وي، دا څه ډیر عجیبه نوم دے. د مَکْتَبَةُالْمَدِیْنه کتاب "نام رکھنے کے اَحکام" حاصل کړئ او د هغې نه ښه شان نوم را اُوباسئ. دا کتاب په هر یو کور کښې موجود کیدل پکار دي. چې کله هم ماشوم پیدا شي نو د دې کتاب نه نوم کیْودل پکار دي. (د امیر اهلِسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه سره خواه کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائیل:) د "فاتحه ایمان" ترجمه به وي د ایمان فاتِحه. بهرحال د دې نوم چې څه هم معنیٰ اخلي هغه به د ایمان سره بهتره نه لګي.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،قسط:75)

سوال: حیات الله نوم کیښودل څنګه دي؟ (د سوشل میډیا په ذریعه سوال)

جواب: جائز دي. (د دې معنې دہ: د الله پاک ژوندے کړے شوے.)

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،قسط:62)

سوال:آیا د ماشوم نوم "محمد حطیم" کیښودے شي؟

جواب: (په دې موقع باندې امیر اهل سنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه سره نزدے ناست مفتي صاحب اوفرمائیل:) د حطیم معنیٰ د لفظِ محمد سره مناسب نه معلومیږي ځکه چې د کال په شروع کښې چې کومه وچه شوې ګیا وي هغې ته، او ملبے ته هُم حطیم وائي او لفظِ "حَطَمَه" عام طور د ماتیدلو په معنیٰ کښې استعمالیږي. (امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه ارشاد اوفرمائیل:) لفظِ محمد لګولو نه بغیر "حطیم" نوم کیښودلو کښې څه حرج نشته. د یو صحابي نوم هم حطیم دے او د کعبے شریفې ګیرچاپیره یوې حصے ته هم حطیم وائي بلکه "حطیم" عینِ کعبه ده چې د جوړولو په دوران کښې د خرچ د کمې په وجه دا حصه پرینبودلے شوې وه. (بخاری،1/533،حدیث:1584) نو دغه

شان دا دوه نسبتونه شول لِـهٰذا د نسبت نه برکت حاصلولو د پاره حطیم نوم کېښودلے شئ خو دې سره لفظِ محمد لګول مناسب نه دي. که چا ”محمد حطیم“ نوم کېښودلو نو مونږ به دي ته ناجائزه او نوم کېښودونکي ته ګنهګار نه وايو، البته لفظِ محمد د هغه نوم سره لګول پکار دي کوم چې د دې د شان لائق وي لکه حسن وغیره. د ”حسن“ تصغیر سره هم لفظِ محمد لګول مناسب نه دي خو دلته زمونږ په معاشره کښې عرف دے تر دې پورې چې علماء ئې هم لګوي. بهرحال که چا د حسن تصغیر سره هم لفظِ محمد اولګولو نو هغه ګنهګار نه دے خو زما دا جواب د فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه شریف او د سرکار مفتي اعظم هند د ارشاداتو په رڼړا کښې دے. (جهانِ مفتی اعظم، ص452،ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:87)

سوال: د محمد نوم څه برکتونه دي؟

جواب: سُبْحٰنَ الله! د محمد نوم د برکتونو به څه وائي! الله پاک ارشاد فرمائي: زما دِ په خپل عزت و جلال قسم وي! د چا نوم چې ستا په نوم وي (یعني محمد یا احمد وي) نو زه به هغه ته عذاب نه ورکووم. (مواہب لدنیہ،301/2) خوږ آقائے کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: د چا نوم چې احمد یا محمد وي هغه به دوزخ ته نه ځي.

(مسندفردوس،503/2، حدیث:8515،ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:83)

جو چاہتے ہو کہ ہو سرد آتشِ دوزخ  دِلوں پہ نقش محمد کا نام کر لینا

سوال: د ماشومي نوم ”عَجوه“ کېښودل څنګه دي؟

جواب: ”عجوه“ د مدینے مُنَوَّرے بلکه د ټولې دنیا د ټولو نه اعلیٰ کجوري دي، په دې نسبت باندې نوم کېښودلو کښې څه حرج نشته. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:102)

سوال: په مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې د پیدا شوي ماشوم د پاره د مُحَرَّمُ الْحَرَام په نسبت یو ښه شان نوم را اوښائي.

جواب: ما تر ننه ورځې پورې چا ته بد نوم نه دے ښودلے. اَلْحَمْدُ لِله زما دا عادت دے چې زه د ښه نه ښه نوم ګرځم ځکه چې زه د چا بد نه غواړم نو هغه ته به بد نوم ولے

ورکووم؟ زيات خو داسې دي چې اَلْحَمْدُلِلّٰه زه د هلک نوم محمد کړېدم يا کله احمد کړېدم د دې دواړو نومونو ډېر فضيلتونه دي او څوک چې د تعظيم او برکت د پاره دا نومونه کيږدي نو د نوم کيښودونکي د پاره د بخښنې خوشخبري ده. (کنزالعمال،جزء16، 8/175، حديث: 45215ماخوذا) دغه شان د آواز کولو د پاره هم زه ښه نوم ورکووم. که هغه بيا مُحَرَّمُ الْحَرَام وي او که لوئے اختر وي يا رَمَضَانُ الْمُبَارَك وي، زه د خپل طرفه ښه نوم ورکووم او په دې لحاظ سره د مُحَرَّمُ الْحَرَام څه خصوصيت نشته چې ګنې زه دِ مُحَرَّمُ الْحَرَام کښې ښه نوم ورکړم او باقي مياشتو کښې بد. د ماشومانو نومونه ښه کيښودل پکار دي ځکه چې ښه نوم ښه فال او ښه نښه ده او د چا نوم چې ښه کيښودلے شي، هغه سره به اِنْ شَآءَالله ښه کيږي خو نن صبا خلق مَعَاذَالله د فلمي اداکارانو، کرکټرانو او فنکارانو په نومونو د خپلو بچو نومونه کيښودل خوښوي. دغه شان خلق د منفرد نوم کيښودلو پوره پوره کوشش کوي او ځنګه چې يو مُنفَرِد [ځانګړے] نوم واوري هغه کيږدي حالانکه داسې کول نه دي پکار. د ماشومانو نومونه د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام صحابه کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان او اوليائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په نومونو باندې کيښودل پکار دي. نن صبا خلق يٰسٓ او طٰهٰ نومونه کړېدي، د داسې نومونو کيښودلو هم اجازت نشته ځکه چې دا حروفِ مُقَطَّعَات دي د دې معنٰى الله پاک ته معلومه ده او د الله پاک په عطا سره د هغه خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته معلومه ده، مونږ ته د دې معنٰى معلومې نه دي ځکه دا نومونه نه شي کيښودلے، خو غلام يٰسٓ او غلام طٰهٰ نومونه کيښودلے شي.

باقي پاتې شوه دا چې زه د مُحَرَّمُ الْحَرَام په نسبت يو ښه شان نوم در اوښايم نو د دې د پاره د نوم تپوس کوونکي د پاره تنظيمي ذمه دار کيدل او مدني فيس ورکول ضروري دي. که زه بغير د څه شرط نه نوم اوښايم نو دومره خلق به د نوم تپوس کول شروع کړي چې سنبالول به ئې مشکل شي. ممکن‌ښې به د نوم د پاره زما خواه ته پوره پوره لستونه راتلل دغه شان به خلقو زه هډو خوراک څښاک ته نه پريښودم، بيا ما د

نوم د پاره پابندیانې اولګولې چې د کومو خلقو تنظیمي ذمه داریانې وي نو هغوئي ته د نوم د تپوس کول اجازت دے ګنې اجازت نشته او دا شرط مې هم اولګولو چې زما نه د نوم اخستلو د پاره کم از کم د ذیلي حلقے نګران کیدل ضروري دي اوس هم د نوم اخستلو د پاره ماته وئیلے کیږي چې نوم اوښائې ځکه چې نوم تپوس کوونکے مدني کار ډیر کوي، اګر که د هغه د کور ټول خلق بے لمانځه وي او په حقیقت کښې هغه د بداخلاقیانو مجموعه وي خو د نوم اخستلو د پاره هغه د فضیلتونو مجموعه جوړه کړے شي.

د دعوت اسلامي مَكْتَبَةُ الْمَدِينه یو کتاب په نوم ''نام رکھنے کے اَحکام'' شائع کړے دے، په دې کتاب کښې په سَوُونو بلکه زرګاؤ نومونه ورکړے شوي دي. لهٰذا د دې نه نوم منتخب کولے شئ او کیښودلے شئ. په دې کتاب کښې د نومونو سره سره ضروري مسائل او چې کوم نومونه کیښودل منع دي هغه هُم پکښې ښودلے شوي دي. دا کتاب د هر کور ضرورت دے ځکه چې عام طور هر چا کره ماشومان پیدا کیږي. په دې کتاب کښې د نومونو سره سره د هغې معنٰي هم لیکلے شوي دي، د خپلو نومونو معنٰي هم پکښې کتلے شئ. دا صرف مفید نه بلکه یو مفید ترین کتاب دے لهٰذا دا کتاب د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه هدیةً حاصلول او په خپلو کورونو کښې ضرور ساتل پکار دي.(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، قسط:127)

سوال: د ماشومې نوم ''وَالنَّاس'' کیښودل څنګه دي؟

جواب: ''والنّاس'' نوم کیښودل جائز دي ځکه چې د دې معنٰي بده نه ده. د ''والنّاس'' معنٰي ده ''او انسان''، او که چا ورته د شرارت د پاره خنّاس وئیل شروع کړل نو د [خنّاس] معنٰي معلومیدلو په صورت کښې به جګړه جوړه شي، او که په معنٰي پوهه نه شي نو کیدے شي چې دا اوګنړي چې خنّاس نوم هم ښه دے او دغه شان د چا نه په اوریدلو که څوک خنّاس نوم کیږدي نو هُم څه عجبه نه ده. ''والنّاس'' اګرچې د قرآنِ پاک لفظ دے خو دا ضروري نه ده چې کوم لفظ په قرآنِ پاک کښې راغلے

وي په هغې دِ نوم کيښودلے شي ځکه چې په قرآن پاک کښې خو د اِبليس، فرعون او شيطان نوم هم راغلے دے. د ماشومانو جينکو نومونه د پاکو بيبيانو، صحابيانو، او ولياتو او چې کومې بزرګانې زنانه تيرې شوې دي د هغوئي په نومونو باندې کيښودل ښه دي.(ملفوظاتِ اميرِاهلِسنت.قسط:127)

سوال: شهنشاه او بادشاه نوم کيښودل څنګه دي؟

جواب: ځپله خپل نوم د تکبر او لوئي والي په نِيَّت شهنشاه يا بادشاه کيښودل منع دي. (مرآۃالمناجيح.5/30ماخوذا) که د تکبر نِيَّت نه وي لکه چې د خلقو په معنٰي باندې نظر نه وي او داسې نوم کيږدي نو بيا به هغه شان ممانعت نه وي. البته بچ کيدل بيا هم ښه دي ځکه چې په دې کښې ځپله خپل صفت بيانول دي. موجوده دور کښې د خپل صفت بيانولو والا نومونه دومره زيات دي چې تقريباً هر دوئيم نوم د خپل تعريف والا معنٰي باندې مشتمل دے مثلاً بعضې خلق شهزاد يا شهزاده نوم کيږدي چې د دې معنٰي ده: د بادشاه ځوئ، اګر که په پلار باندې ئې د خلقو ډير ډير قرضونه دي خو د ځوئ نوم ئې شهزاد دے. د بعضې خلقو نوم عابد وي او د دې معنٰي ده: عبادت ګُزار، اګر که هغه د جُمُعے لـمونځ هُم نه کوي خو نوم ئې عابد دے. زاهد نوم کيږدي چې د دې معنٰي ده: د دنيا نه بےرغبته، حالانکه هغه پوره پوره دنيادار وي خو نوم ئې زاهد وي.(ملفوظاتِ اميرِاهلِسنت.قسط:129)

سوال: شهنشاه او بادشاه او داسې د لوئے والا نور القابات د بزرګان دين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی سره ولے لګولے کيږي؟

جواب: که خلق چا ته بادشاه يا شهنشاه اووائي نو په دې کښې حرج نشته څنګه چې بعضې بزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی ته داسې القابات د خلقو له طرفه ورکړے شوې دي مثلاً شهنشاهِ سُخن مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه. امام عالي مقام، د امام حسين رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هغه شهزاده چې کربلا کښې ئې د بيمارئ په سبب په جنګ کښې حصه نه وه اخستې او د کربلا د واقعے نه پس ډيرو کلونو پورې ژوندے وو. د هغوئي

القابات ”سَجّاد يعني ډيرې زياتې سجدے کوونکے“ او زَيْنُ الْعَابِدِيْن يعني د عبادت کوونکو زينت“. ولے چې هغوئي به ډير زيات لمونځونه کول ځکه خلقو هغوئي ته دا القابات ورکړل ګڼې د هغوئي اصل نوم ”علي اوسط“ دے. پخوانو کتابونو کښې د هغوئي نوم ”علي بن حسين“ ملاويږي. بهرحال هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته سجاد او زَيْنُ الْعَابِدِيْن وئيل بالکل صحيح دي. د عامو خلقو چې دا نومونه ايښودلے کيږي نو په دې کښې خپل صفت بيانيږي، ځکه چې پينځه وخته لمونځ خو کوي نه، او خلق ورته وائي: ”سَجّاد يعني ډيرې زياتې سجدے کوونکے“ د جُمعے لمونځ به نه کوي او نوم به ئې وي ”زَيْنُ الْعَابِدِيْن يعني د عبادت کوونکو زينت.“ ”غلام زَيْنُ الْعَابِدِيْن“ نوم که کيږدئ نو خير دے خو په زَيْنُ الْعَابِدِيْن نوم کيښودلو کښې خپل صفت دے. زياته بهتره دا ده چې د حصولِ برکت د پاره د بزرګانو په نومونو باندې نوم کيښودلے شي. که څوک ځان ته سجّاد، شهزاد، او شهزاده وائي نو هغه سره انښتل هُم نه دي پکار. بعضې خلق د خپل ځوئ تعارف په شهزاده يا صاحبزاده وئيلو باندې کوي، ګناه په دې کښې هم نشته خو د خپل صفت نه بچ کيدل بهتر دي. زه خو خپل ځوئ ته غريب زاده وايم يعني د غريب ځوئے. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:129)

**سوال:** ”محمد اذان“، ”محمد سُبحان“ او ”محمد صبر“ نوم کيښودل څنګه دي؟

**جواب:** اذان سره د لفظِ ”محمد“ هيڅ جوړ نشته، دا نوم کيښودل اګر چې ناجائزه او ګناه نه ده، خو دا د يو عبادت نوم دے، لِهٰذا دا نوم کيښودل مناسب نه دي، که چا ايښے وي نو دې سره دِ لفظِ ”محمد“ نه شاملوي. دغه شان ”محمد سبحان“ نوم اېښودل نه دي پکار، بلکه ”عبدا لسبحان“ اېښول پکار دي.(2) او د ”محمد صبر“ په ځائے ”محمد صابر“ کيښودل پکار دي چې د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه زيات صابر څوک کيدے شي؟ او صبر يو صفت دے. (دې موقع باندې مفتي صاحب اوفرمائيل:) صبر د صابر په معنٰی کښې هم راځي، او د دې مطلب به وي ”ډير زيات صبر کوونکے“ د عربئ قاعده ده چې د مبالغے د پاره داسې صفاتو له مصدر

راوړي، البته! داسې نومونه دلته مشهور نه دي، لِـهٰذا داسې نومونه کیښودل نه دي پکار.

(امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه اوفرمائیل:) دراصل مسئله دا ده چې خلق مُنفَرِد [ځانګړے] نوم کیښودل خوښوي. مونږ د اذان نوم کیښودلو نه منع اوکړه نو خلق به په خپل شوق کښې "تکبیر" یا "اقامت" نوم کیږدي! تر دې چې د مُنفَرِد [ځانګړي] نوم کیښودلو دومره شوق لري چې د یو اخبار متعلق چا د خپل ځوئ نوم "کورونا" ایښے دے! بهرحال في زمانه هغه نوم خوښوي چې خلق پرې تعجب [یعني د حیرانتیا اظهار] اوکړي، د دې د معنیٰ تپوس کول پکار دي. یاد ساتئ! هغه مُنفَرِد [ځانګړي] نوم کیښودلو کښې څه حرج نشته، د کوم چې معنیٰ اخلاقي او شرعي اعتبار سره بده نه وي. بهتره دا ده چې کوم نومونه په حدیثونو مبارکو کښې راغلي دي یا د حضور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مبارک نوم باندې وي، مثلاً محمد یا احمد دا نومونه کیښودل پکار دي. د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه کتاب "نام رکھنے کے احکام" کښې د نومونو لوئے فهرست موجود دے، دا کتاب د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه نه هدیةً حاصل کړئ، یا د دعوت اسلامي د ویب سائټ نه ئې ډاون لوډ کړئ او د دې نه د نومونو انتخاب اوکړئ.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، قسط:156)

**سوال:** آیا رَمله نوم کیښودلے شو؟

**جواب:** رمله نوم کیښودلے شئ ځکه چې د ډیرو صحابیاتو رَضِیَ اللهُ عَنْهُنَّ نومونه رمله وو خو برکت به هله ملاویږي چې په دې نیت کیښودلے شي چې په دې کښې د صحابیاتو نسبت دے بهرحال د خپلو بچو نومونه د انبیائے کرامو، صحابه کرامو او بزرګان دین په نومونو باندې کیږدئ او د ماشومانو جینکو نومونه د صالحاتو، ولیاتو او نیکو بیبیانو په نومونو باندې کیږدئ چې په دې کښې برکت وي.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، قسط:91)

**سوال:** ما د خپل ځوئ اصل نوم محمد ایښے دے او د آواز کولو د پاره واصف رضا، نو آیا [په آواز کولو کښې] د واصِف رضا نه مخکښې محمد لګولے شم؟

جواب: که د برکت په نيت مو "محمد" نوم کيښودے وي نو د ډير فضيلت والا کار مو کړے دے. د واصف رضا معنٰی ده: د رضا صفت کوونکے" اوس به دلته دا کتلے شي چې محمد، د رضا تعريف کوي، په دې وجه احتياط په دې کښې دے چې واصف رضا بيل اوويلے شي. محمد واصف نه وئيل مناسب دي او که اوويلے شو نو څه حرج او ګناه هم پکښې نشته. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،قسط:92)

سوال: آيا جانِ عالَم نوم کيښودلے شو؟

جواب:د الله پاک نه علاوه چې څه هم دي، دې ټولو ته عالَم وائي. او د دې ټولو جان يعني خوږ آقائے کريم صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم ته جانِ عالم وئيلے شي. (په دې موقع باندې مدني مذاکره کښې شريک مفتي صاحب اوفرمائيل:) عام طور جانِ عالم د نبي کريم صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم د پاره وئيلے کيږي او جانِ عالم نوم کيښودل غالباً په مسلمانانو کښې رائج هم نه دے، او په دې نوم کښې تزکيه يعني د خپل نفس لوئے والے بيانول هُم دي لِهٰذا داسې نوم نه دې کيښودل پکار.

(بهارِ شريعت، 3/604، حصه: 16،ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،2/242)

سوال: ما د خپلې لور نوم اُمُّ الْقُرىٰ ايښے دے آيا داسې نوم ايښودل صحيح دي؟

جواب: د ماشومې نوم "اُمُّ الْقُرىٰ" کيښودلو کښې څه حرج نشته د مکّے مُکَرَّمے يو نوم "اُمُّ الْقُرىٰ" هم دے. (بخاري، 3/296، حديث: 4772)(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،2/457)

سوال: زما په کور کښې لور پيدا شوې ده، آيا زه د هغې نوم مشعل کيښودے شم؟ د دې معنٰی هُم بيان کړئ؟ (د SMSپه ذريعه سوال)

جواب: مشعل د اور وي او دا ښه څيز دے، بد څيز نه دے. لکه "مشعلِ راه" چې وئيلے کيږي ، يعني لار ښودونکې رنړا. "مشعل" نوم کيښودل شرعاً جائز دي، خو د جينکو نومونه هغه کيښودل پکار دي کوم چې د صالحاتو صحابياتو او ولياتو يعني د نيکو زنانو نومونه وي، داسې نومونه باعثِ برکت وي. د مشعل نه اور هم لګيدلے شي، خطره خو موجوده ده. څکه داسې نوم کيږدئ چې هيڅ خطره پکښې

نه وي Peaceful (امن والا) نوم کړدئ، د ټولو صحابیانو نومونه امن والا دي. د حصول برکت په نیت سره ئې چې کیږدئ نو اِنۡ شَآءَاللّٰه برکت به هم ملاویږي.

(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت، قسط:90)

سوال: آیا عبدالحریر نوم کیښودلے شو؟ (د اسلامي خور سوال)

جواب: د حریر معنٰي ریښم ده نو د عبدالحریر معني شوه د ریښمو بنده، بس دا به ئې د مُنفَرِد [ځانګړي] نوم کیښودلو په چکر کښې ایښے وي. که د عبدالحریر په ځائے بل نوم کیښودل وي نو عبدالقدیر نوم کیښودلے شئ خو په دې کښې مسئله دا ده چې خلق ترینه عبد لرې کړي او صرف قدیر وائي او د الله پاک نه علاوه چاته قدیر وئیل ناجائزه او ګناه ده ځکه چې دا د الله پاک صفت دے. (فتاویٰ مصطفویه، ص9089 ملخصا) نصیر نوم کیښودلے شئ چې بنده ته نصیر وئیلو کښې حرج هُم نشه. دغه شان جریر نوم هم کیښودلے شئ چې دا د یو صحابي نوم دے. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت، قسط:99)

سوال: زه د خپلې لور نوم "نِسوان" ایښودل غواړم، آیا دا نوم ټیک دے او که ؟

جواب: د دې هیڅ فضیلت نشته خو که دا نوم چا کیښودو نو ګنهګار به هم نه وي.

سوال: آیا مونږه د خپل خوږ آقائے کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په کنیت "ابوالقاسم" باندې د خپلو بچو نوم کیښودے شو؟

جواب: آؤ جي! "ابوالقاسم" نوم کیښودل جائز دي .

(فتاویٰ رضویه، 560/16)(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت، قسط:217)

* * * * * * * * * * * * *

نوٹ

صفحہ 1، 13 کے سوالات اور صفحہ 4 کا آخری سوال شعبہ ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت کی طرف سے قائم کیے گئے ہیں البتہ جوابات امیرِ اہلِ سنت دامت برکاتہم العالیہ کے ہی عطا کردہ ہیں۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نيک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِينه" په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com